**د ژر تر ژره خپرولو لپاره**

۲۰۱۴ کال، اپرېل میاشتې ۷ امه

اړیکه: کټي ګیسټ، 202-728-5535, kgest@ndi.org

## د تاوتریخوالي له ګواښونو سربېره، افغانانو خپل اراده او هوډ څرګند کړ ترڅو ډیموکراټیکه لړۍ پرمخ بوځي.

**واشنګټن ډي سي** – په روښانه توګه د تاوتریخوالي د ګواښ پر ضد، ګڼ شمېر افغان رأیه ورکوونکي په څرګند شمېر د اپرېل میاشتې د ۵ نېټې د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې ګډون وکړو، هغه ټاکنې چې کېدای شي د دې هېواد په تاریخ کې د لمړي ځل لپاره په ډیموکراټیکه توګه د واک د لیږد وبلل شي.

ملي ډیموکراټیک انسټیټیوټ په خپله لمړنۍ بیانیه کې وویل،" د هېواد په کچه رأیه ورکوونکو خپل هوډ او اراده څرګنده کړه ترڅو د دې هېواد نوې پر ښو دربدلې ډیموکراټیکه لړۍ مخ پر وړاندې بوځي"

ملي ډیموکراټیک انسټیټیوټ ۱۰۱ کسیزه افغان کتونکی پلاوی سیمې ته واستوه چې اړوند پلاوي په ۲۶ ولایتونو کې د رأیې اچوونې له ۳۱۷ محلونو څخه لیدنه وکړه. ګڼ شمېر اړوندو کتونکو د ټاکنو په درشل کې د ۴۶۰۰۰ تنو د نوماندو او سیاسي ګوندونو د څارونکو په چمتو کولو کې مرسته وکړه. دې انسټیټیوټ همدارنګه د ۲۹۹ ولایتي شوراګانو د ښځینه نوماندو له ډلې څخه ۲۸۱ تنو ته روزنه ورکړه او د ۱۷۱۵ تنو نوماندو لپاره د بلدتیا/آشنایی یو پروګرام په لاره واچوه، چې دا شمېره د ولایتي شوراګانو د نوماندو (له ۶۰ سلنې څخه زیاته برخه جوړوي).

د ملي ډیموکراټیک انستیټیوټ په پروګرام کې پنځلس تنه نړیوال اوږد مهاله کتونکي شامل وو، چې اړوند کتونکي پنځو اونیو لپاره په کابل کې د ټاکنیزی لړۍ د پرمختګونو په اړه په شننه او په دوره یې توګه د رپوټونو په خپرولو بوخت وو. دوی هغه مهال له هېواد څخه بهر کړل شول کله چې د مارچ میاشتې په ۲۰ امه نېټه د کابل سرینا پر هوټل باندې د برېد په پایله کې د ملي ډیموکراټیک انستیټیوټ یو تن کتونکې لویس ماریا ډارټه چې د پاراګوای له هېواد څخه وه، له نورو اتو تنو سره ووژل شو. ملي ډیموکراټیک انستیټیوټ خپل دا ماموریت ښاغلي لویس او ټولو هغو کسانو سربښندنه بولي کوم چې خپل ځانونه یې د افغانانو د هیلو او د ډیموکراسۍ لپاره د هغوی د سترو آرزوګانو څخه د دفاع په لاره کې قربان کړي دي.

ملي ډیموکراټیک انستیټیوټ زیاته کړه چې په ټاکنو کې د خلکو له پراخ ګډون سره د افغانو ټاکنیزو کتونکو، سیاسي ګوندونو، ښځو، ځوانانو د پام وړ ونډه اخیستنه د ټاکنیزې لړۍ د اعتبار زېری ورکوي. د ۲۰۰۹ کال پرتله، سږکال دری برابره کورنیو څارونکو ډلو له ټاکنو  څخه د څارنې لپاره د اعتبارلیکونو ترلاسه کولو لپاره غوښتنه کړې وه، او پنځو ډلو په ګډه له ۱۰۰۰۰ څخه زیات کتونکي د ټاکنو په ورځ ۳۴ ولایتونو ته واستول.

دې انستیټیوټ بیان کړه، له هغه ځایه چې کېدای شي د سیالو نوماندو ترمنځ توپیر کم وي او کېدای شي چې کم شمېر رأیې پر پایلو اغېزه ولري، نو له دې امله دا ډېره مهمه ده چې کتونکي د رأیو شمېرنه  او د شکایتونو لړۍ له نږدې وګوري ترڅو د روانې ټاکنیزې لړۍ له بشپړتیا څخه د ډاډمن کېدو په برخه کې مرسته وشي. ملي ډیموکراټیک انستیټیوټ زیاته کړه، یواځې هغه مهال کېدای شي چې وروستۍ ارزونه ترسره شي کله چې ټاکنیز بنسټونه خپل فعالیتونه بشپړ کړي.

په داسې حال کې چې د ۲۰۰۹ کال پرتله، د ټاکنو ورځ له کم شمېر تاوتریخوالي له پېښو سره مخ وه، د هېواد په کچه ګڼ شمېر برېدونه ترسره شول او د رأیې اچوونې ۲۰۵ مرکزونه د امنیتي اندېښنو له امله پرانیستل شول، البته د رأیې اچوونې د هغو مرکزونو برسېره کوم چې له وړاندې د امنیتي اندېښنو له کبله تړلي پاتې شوي وو. په هغو سیمو او ځایونو کې چې په ټاکنو کې د خلکو د ګډون کچه محدوده وه، تروریستي کړنې د رأیې اچوونې له حق څخه د محرومولو لامل وې – که څخه هم په تیرو ټاکنو کې د خلکو د پام وړ پراخ ګډون د افراطیانو هغه هڅې شنډې کړې کوم چې غوښتل یې دا ټاکنې ګډوډې کړي.

ملي ډیموکراټیک انستیټیوټ په ټاکنیزه لړۍ کې یو شمېر پرمختګونو ته اشاره وکړه کوم چې د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلنو له ټاکنو راپدیخوا رامنځته شوي دي. په اړوندو پرمختګونو کې نوی قانوني چوکاټ او عملیاتي جوړښت، د ټاکنو پر امنیت باندې متمرکز د یوه ځانګړي کمېسیون رامنځته کول او همدارنګه پر ټاکنو باندې د څارګرو ادارو د نوماندو په ټاکنه کې د افغانستان د پارلمان غړو او مدني ټولنې د استازو ګډون شاملیږي، دا په داسې حال کې ده چې له دې وړاندې دا لړۍ د ولسمشر لخوا اداره کېده.

له ټيرو ټاکنو څخه د ترلاسه شويو تجربو يا زده کړل شويو درسونو په غبرګون، د حساسو ټاکنيرو توکو پر پراويز خونديتوب او هغو کړنلارو باندې د تمرکز په ګډون کوم چې لاسوهنه په ګوته کوي، د درغلۍ څخه د مخنيوي لپاره نوي تدابير تر لاس لاندې نيول شوي وو. په اړوندو تدابيرو په بارکوډ سمبال د څارنې يو نوی سيستم ترڅو د رأيې د صندوقونو او د پايلو د فورمو خوندېښت و څاري، محافظتی کلکه تسمه ترڅو د ليږد پر مهال رأيې پاڼې خوندې وساتي او همدارنګه قوي نه پاکېدونکی رنګ رانغاړي. کورنيو څارونکو او د ملي ډيموکراټيک انسټيټيوټ کتونکو رپوټ ورکړ، په داسې حال کې چې ځينو ټاکنيرو کارکوونکو کړنو له اړوندو کړنلارو سره توپير درلود، خو ګڼ شمير اړوندو کارکوونکو دا کړنلارې په سمه توګه پلې او تطبيق کړې.
ملي ډيموکراټيک انسټيټيوټ وويل، په ځانګړې توګه امنيتي ستونزو ته په پام کوم چې دا هېواد ورسره مخ دی، راتلونکي دولت ته د واک سپارلو لپاره پلان جوړونه د هېواد د ټيکاو په ډاډمنولو کې ډېره مهمه بلل کيږي.

د دې انسټيټيوټ لمړۍ بيانيه هم د لاندې ټکو په اړه بېلابېلې سپارښتنې رانغاړي:

- په ټاکنيزه لړۍ کې د روڼتيا ډاډمنول. کتونکو ته بايد پرته له کوم خنډه څخه لاسرسی برابر شي ترڅو د رأيو شمېرنې او د شکايتونو د هواري په ګډون د ټاکنيزې لړۍ له پاتې برخې څخه کتنه وکړي. دا کار د ټاکنو پر اداره باندې د دوامداره عامه باور د ډاډمنولو لپاره مهم بريښي.
- د رأيې اچوونې د محلونو امنيت ته په پام، د احتمالي دويم ځل ټاکنو لپاره چمتوالی، په ځانګړې توګه هغه د رأيې اچوونې محلونه کوم چې د اپرېل مياشتې په ۵ نېټه د امنيتي ستونزې له امله تړلي پاتې شوي وو.
- د واک د استولو يا سپارلو لپاره د پلان جوړونه ترڅو په آسانه توګه او پرته له کومې ستونزې د واک د سپارلو په برخه کې مرسته وکړي.

د ملي ډيموکراټيک انسټيټيوټ د اپرېل د ۵ نېټې ماموريت د دغه نهاد د ډسمبر په مياشت کې له ټاکنو څخه د مخه ارزونې په اړه خبر شوی وه.
د ملي ډيموکراټيک انسټيټيوټ لخوا له ټاکنو څخه د کتنې ماموريت د امريکا متحده ايالاتو د نړيوالې پراختيايي ادارې له بلاعوضه مالي مرستو څخه تمويل شوی وه.
ملي ډيموکراټيک انسټيټيوټ يوه غير انتفاعي، بلې پلوه او غيردولتي موسسه ده چې د نړۍ په کچه د خلکو د ګډون، په دولت کې د روڼتيا او حساب ورکوونې له لارې د ډيموکراټيکو بنسټونو د ملاتړ او پياوړتيا په برخه کې کار او فعاليت کوي. د لازياتو مالوماتو لپاره: [www.ndi.org](http://www.ndi.org) *ته ورشئ.*